مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۱۰/۰۱

# د یو دردمن په ارمان

د زړه په درد بانـــدی، آشــنا نه راځي
د خلــکو غـــم کې ، مبــتلا نه راځي

چې د بهـــــبود، لري پیغام ځــان سره
داسی یو شپون، په دې سحرا نه راځي

له غمه وچ شـــولو، په ســترګو کې نم
د چــا د لاســـه ، نن ژړا نه راځــــي

هرې خـــوا، مالـګي دوړوي په زخمو
چې شي دارو، په درد د چـــا نه راځي

هــاغـــه چې ول ، د امـیدونو کاروان
یو ځـــلي بیا ، په دې بـیدیا نه راځي

تول ژړه غوني کـــړه ، فـــراق د وطن
ځکه د چــا خــولي ته ، خــندا نه راځي

ډیری مو شـــپي ، په انتـظارتیری شوي
زمـــونږ د زړونــــو، مـــدعا نه راځي

هغوی چې ول ، د دې وطـــن غمخواران
په دغـــــه بڼ کي ، یو وار بیا نه راځي

د توری شپي تیارې، خــــــو لا زیاتیږي
په دې چمن کې، رون ســــــبا نه راځي

سیوری د مرګ دی ، صورتونو کې ناست
په دغــــــه دور کې، مســیحا نه راځــي

د نفــس هــوا کې دي ، همــه واړه ډوب
عدل و انصـــاف، په دې دنــیا نه راځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د قــــافلو واګـــــــــي، چې واخــــلي په لاس
داسي لاربښـــــــود او، رهنمــــا نه راځـــــــي

هــــاغـــــه د بخـــــــت او، اميدو محـــــــبوبی
نور په کلو ، زمــــــونږ په خـــوا نه راځي

د زمــــاني ديــــــوانو ، خــــــپو لاندی کړو
زمــــونږ په درد د چــــا پروا، نه راځـــــــي

د طالبانو د لومړۍ دورې دريم کال واکمنۍ او زما ناهيلي په هغه وخت کې د طالبانو په هکله،
کال ۱۳۷۷ هه ،ش پيښاور د هجرت کلونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ